د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اطلاعاتو ته د لاسرسي کميسيون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون دسترسی به اطلاعات

Islamic Republic of Afghanistan
Access to Information Commission

## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹ کال، د غبرګولي ۱۰ |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون دفتر، کابل، افغانستان |
| د غونډې رییس | د کمېسیون رییس او کمېشنر ښاغلی عین الدین بهادري |
| ګډونوال | آغلې نجیبه مرام، ښاغلی حمدالله ارباب، آغلې زهرا موسوي او ښاغلی عصمت‌الله حیدري |
| دغونډې تنظیمونکی | عصمت‌الله حیدري |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون نوبتي (اونیزه) غونډه نن د ۱۳۹۹ کال د غبرګولي ۱۰ د کمېشنرانو او دارالانشا رییس په شتون کې تر سره شو. په د غونډه کې په لاندې موضوعاتو بحث او د اندونه تبادله وشوه:

۱. په پیل کې کمېشنرانو د عدلیه وزارت پخوانۍ ودانۍ او د عامه ساتنې تصدی په اړه خبرې اترې وکړې. کمېشنران په دې اند دي چې کچېرته د کمېسیون تر څنګ نورې ټولې ادارې د عامه ساتنې په ودانۍ کې شتون ولري، د هغې مدیریت او امنیت لپاره به لا ډېر سهولتونه رامنځته شي. همدارنګه یې زیاته کړه، کچېرته د کمېسیون دفتر د عامه ساتنې ودانۍ ته ولېږدول شي، باید ټول اړین ترمیمات، نویوالی او د ودانۍ منځ کې ځای پرځایونه د همغې تصدی لخوا تر سره شي او د ودانۍ امنیت ټینګښت لپاره هم باید عسکر ځانګړي کړي.

۲- نوې ودانۍ ته د دفتر د ښه لېږ لپاره پرېکړه پر دې وشوه چې له چارو ادارې، د څمکو او ښار جوړونې وزارت، عامه ساتنې ادارې، مالیه وزارت، ملي افغان شرکت او ملي تدارکاتو ادارې سره یوه ګډه غونډه تنظیم شي ترڅو د ودانۍ په اړه هر اړخیز بحث وشي او مناسبه د حل لار ورته پیدا شي. د کمېشنرانو له ډلې ښاغلی ارباب د دې موضوع د رهبرۍ لپاره او د دارالانشا رییس یې د تنظیم او څېړنې لپاره وګمارل شو.

۳- د اطلاعات او فرهنګ وزارت او ملي احصایې لخوا د کمېسیون پرېکړو په ځواب کې مکتوبونه را استولي دي چې باید قانوني او هر اړخیز ځوابونه ورکړل شي. څکه نو د دارالانشا رییس او حقوقي سلاکار ښاغلي پویا څخه غوښتنه وشو چې په دې سکالو ګډ کار وکړي او پایلې یې له کمېسیون سره شریکې کړي تر څو هغه وڅېړل اوغور پرې وشي او مناسب ځواب ورته واستول شي.

۴- د کارکوونکو کاري رژیم داسې ترتیب شو چې ټول کارکوونکي یو ورځ وروسته دفتر ته راشي. همدارنګه د عامه پوهاوي، شکایتونو ته د رسېدنې، خدمات او اداري او بشري سرچینې امریتونو کارکوونکو لیست داسې تنظیم شوی چې هره ورځ باید یو نفر په دفتر کې شتون ولري.

درنښت

خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان
www.aic.gov.af info@aic.gov.af ۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳

د کمېسیون رییس عین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله آغلې نجیبه مرام

د کمېسیون منشي ښاغلی حمدالله ارباب

د کمېسیون کمېشنره اغلې زهرا موسوي